# غلې ژرندې

## اجمل خټک

تاسو خو به هغه د غلې ژرندې قیصه اورېدلې وي. چې ژرنده ګرې به پکښې دانې واچولې، هغه دانې به ټولې غیبې شوې او څهٔ لږې غوندې به اوړهٔ شوې.

قیصه داسې وه چې د ژرنده ګرې د ژرندې د اوړو وتلو دوه لارې وې. یوه چرته پټه وه او بله څرګنده، چې دانې به ئې پکښې واچولې او اوړهٔ به شوې نو په داسې هنر ئې جوړه کړې وه چې څهٔ لږ غوندې اوړهٔ به ترې نه د مالک جولۍ ته راپرېوتل او نور ټول به چرته په هغه پټه لار د ژرنده ګرې پټ کندُو ته ورسېدل. داسې ژرندې اوس هم شته ولې مونږ او تاسو ته نهٔ ښکاري او کهٔ ښکاري هم نو دومره جرات را کښې نشته چې په ګوته ئې کړو. ګني نو دا ګز او دا مېدان.

د امریکې نه به امداد کښې د غریبو او لاچارو خلقو دپاره غوړي، غنم، کپړې او پئ راتلل او راځي. تاسو ته به معلومه وي چې دې کښې به سلمه یا زرمه برخه څرګند شول او چرته به لکه د خېرات هسې د نوم دپاره چاته ورکړے شول. نور به خدائے خبر چرته رسېدل. دا مو یوه غله ژرنده.

په بجټ کښې د یو سړک یا نهر دپاره لکونه، بلکې کروړونه روپۍ منظورې شي او په سړک یا نهر د هغې لسمه شلمه برخه ونهٔ لګي. نورې د ټېکدارانو، کمېشن دارانو، معامله دارانو، او نورو مخکښې وروستو خلقو جېبونو ته په یوه پټه لاره ځان ورسوي. دا مو دوېمه غله ژرنده.

زمونږ او ستاسو په وطن کښې د چینو اوړو ډپوګان دي. وائي چې د کنټرولر دفتر ته راشن پوره راشي خو چې څو ورځې پس تپوس کوئ نو ختم وي. معلومه دا شي چې خلقو ته څهٔ لږه برخه رسېدلې وي او نور چرته د ډپوهولډر په خپله لاره خدائے خبر کوم خوا وتي وي. دا مو درېمه غله ژرنده.

کهٔ داسې شمارم نو زهٔ به ئې په شمارلو ستړے شم او تاسو په لوستلو. خبرې ډېرې سر ئې یو چې دغه غلې ژرندې شته نو کهٔ ملک کښې ډېر څهٔ پېدا شي یا ډېر څهٔ ورته راشي د اولس جولۍ ته به هیڅ ونهٔ رسي، تاسو ئې منئ کهٔ نهٔ. ملنګ خو وائي چې اول د دې غلو ژرندو اصلاح پکار ده او دغه غلې لارې بندول پکار دي.

ولې بد مې ووې؟\
کهٔ هزار ئې سموم کله سمېږي\
چې کارهٔ دي د بد برخو اوربوزونه\
(د اجمل خټک د کتاب "کچکول" نه)